سلطان جان کلیوال 2018/08/30

# په خوب کی:

بیگاه می خوب لیدلی چی جانان راته خندل
دنیا راته خندل او ټول جهان راته خندل

جنډی د خوښی لکی وی د هر بام په بلی
لیدل می چی د کلی زوړ او ځوان راته خندل

اخترغوندی راټول می وو په کورکی لوی واړه
سپوږمی له خندا شنه وه کهکشان راته خندل

د سولي ترانې وی غږیدی هره دره کی
رحمان بابا خندل او ملنګ جان راته خندل

مجنون لیلا ته اینی سترګی سر ؤ په زنګون
ترخنګ یی ګلبشره وه طالب جان راته خندل

بندیز و لګیدلی په تبرونو او ارو
ځنګلونو د پکتیا او نورستان راته خندل

آمو، هیلمند، کونړ وو دیره شوی خپل کاله کی
د عُمَر وچو دښتو د افغان راته خندل

را پاخیدم له خوبه کلیواله په خندا
لیدل می چی راویښ شوم دلبرجان راته خندل

ویل یی څه دی ولیدل په خوب کی د خندا؟

ماوي ورته چی: ستورو د آسمان راته خندل

دی وي: خوب ریښتیا کیږی د انسان کله نا کله

ممکن چی راته شا شی د شـیطان کله نا کله

اګست/ ۱۸/۲۰۱۸
تورنتو ــ کاناډا

S_kliwal_pa_khob_ke.pdf

په خوب کی